اللهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به: سهار مهال (دا اذکار) ویېل: «اللهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» وَإِذَا أَمْسَى قَالَ: «بِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» قَالَ: وَمَرَّةً أُخْرَى: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ». یا الله! ستا په نعمتونو او واکمنۍ کې مو سهار کړ او ستا په نعمتونو او واکمنۍ کې مو بېګا کړ، ستا په نوم ژوندي کېږو او ستا په نوم مړه کېږو او (له مرګ نه وروسته ستا لور ته) بیا پاڅېدل دي، وایي او بل ځل یې ووېل: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ» او ستا په لور وروستی منزل دی.

[حسن] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الکبری کې او ابن ماجه روایت کړی دی]

کله به چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم سهار شو؛ چې هغه د سهار له راختو سره د ورځې پېل دی نو ویېل به یې: (اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا) یا الله پر تا مو سبا کړ، یعنې ستا په ساتنه او ستا په نعمت کې ډوب یو، ستا په یادولو بوخت یو، ستا پر نوم مرسته غواړو، ستا په نعمتونو کې شامل یو، ستا په مرسته او ځواک حرکت کوونکي یو، (وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ) (او پر تا مو بېګا کړ او پر تا ژوندي کېږو او پر تا مرو) د دې جملې معنی هم لکه د تېرې په څېر ده، سر بېره پر دې چې بېګا مهال به یې ویېل: یا الله ستا پر نوم مو بېګا کړ، نو ستا په محیې (ژوند بښونکي) نوم سره ژوندي کېږو، او ستا په (المميت) یعنې مرګ ورکوونکي نوم سره مړه کېږو. (وَإِلَيْكَ النُّشُورُ) او ستا لور ته له مرګ نه وروسته پورته کېدل دي، او له یو ځای کېدو وروسته جلا کېدل دي، زمور دا حالات به په ټولو وختونو کې په همدې توګه مخته ځي او په هېڅ حال به تر ې جلا نه شم او نه به یې پرېږدم. او کله چې پرې له مازدیګر نه وروسته بېګا مهال راغی ویېل به یې: (اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وبكَ أصبحنا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ المَصِيْر) یا الله! ستا په نوم مو بېګا کړ او ستا په نوم مو سبا کړ، ستا په نوم ژوندي کېږو او ستا په نوم مړه کېږو، او له مرګ نه وروسته ستا لور ته بېرته پورته کېدل دي، په دنیا کې بېرته ستنېدل او په اخرت کې بېرته درګرځېدل دي، نو همدا ته یې چې ژوند راکوې او همدا ته یې چې مرګ راکوې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5490